# دافغانستان د بشري حقونو خپلواك كمېسيون

# د ولسي جرګې د دويمې دورې د ټاكنو په بهير كې له سياسي حقونو څخه د څارنې رپوټ

نيته

د ۱۳۸۹کال د چنګاښ له دويمې نه تر ۳۱مې

**پيلامه:**

دافغانستان د بشري حقونو خپلواك كمېسيون لكه د تيرو ټاكنو په څير ژمن دی چې دا ځل هم د ولسي جرګې د دويمې دورې د ټاكنو په بهير كې چې د وږې دمياشتې په ۲۷به كېږي د هيوادوالو له سياسي حقونو څخه څارنه وكړي.

دافغانستان د بشري حقونو خپلواك كمېسيون د كانديدانو د ټاكنيز كمپاين پروسه چې د ۱۳۸۹كال د چنګاښ له دويمې نيټې څخه پيل شوې د خپلو اتو سيمه ييزواو شپږو ولايتي دفترونو په مرسته د هيواد په ۳۴ ولايتونو كې څارنه وكړي.

د ټاكنو له بهير څخه څارنه د آزادو، عادلانه او رڼو ټاكنو له كېدو سره مرسته كوي او د ټاكنو مشروعيت ورسره غښتلی كېږي. دافغانستان د بشري حقونو خپلواك كمېسيون غواړي داساسي قانون له مخې د ۵۸مې مادې سره سم د خپلو دندو، واكونواو تشكيل د قانون له مخې د ټاكنو له روڼوالي، عادلانه توب او آزادۍ سره مرسته وكړي.

كه څه هم په تيرو دورو كې دافغانستان د بشري حقونو خپلواك كمېسيون د UNAMA له دفتر سره په ګډه دا ماموريت ترسره كړی دی، خو دا ځل به كمېسيون په يوازې ځان له دغه بهير څخه څارنه كوي.

دافغانستان د بشري حقونو خپلواك كمېسيون څارنه په څلورو حقونو( د بيان د آزادۍ حق، په آزاده توګه دګرځيدو را ګرځيدو حق، په آزاده توګه د ټوليدو حق او د ټولنو د جوړولو ) او په دري اصلونو ( د نه ګواښ اصل، د نه توپير اصل، دنه پلوي اصل) باندې راڅرخي. چې د هيوادوالو د سياسي او مدني حقونو په كتار كې حسابيږي.

د ولسي جرګې د ټاكنو د پروسې له بهير پورې اړوند د سياسي حقونو د څارني لومړنی رپوټ دافغانستان د بشري حقونو د خپلواك كمېسيون له خوا په داسې مهال خپريږي چې امنيتي وضعيت د انديښنې وړ دی او ورځ تر بلې يې لمن د هيواد بېلابېلو برخو ته پراخيدو په حال كې ده.

دا په داسې حال كې ده چې آزادې، عادلانه او رڼې ټاكنې يوازې د امن په فضا كې تر سره كېدای شي. د امنيت نشتوالی كولای شي چې د ټاكنو په ټولو پروسو منفي اغيزه وكړي او په آزده، عادلانه او شفاف ډول د ټاكنو تر سره كېدل له ننګونو سره مخ كړي.

د څارنو پر مهال د كمېسيون موندنې ښيي، چې ډيری نوماندان امنيتي ګواښونه دخپلو ټاكنيزو سياليو په لار كې يو له تر ټولو سترو ننګونو څخه ګڼي.

په هرات او غزنې ولايتونو كې د دوه نوماندانو تښتول او په ننګرهاراو خوست كې پر دوه نوماندانو باندې بريدونه، د انديښنې وړ پيښې دي چې تر دې مهاله شوې دي.

دكارتونو د ويش كومو ټيمونو چې د غبرګولې له ۲۲مې نيټې را په ديخوا كار پيل كړی دی، كارونه يې ډير ورو روان دي، چې كميت يې دهغو ګڼ شمېر غوښتونكو پر وړاندې چې غواړي په را روانو ټاكنو كې د برخې اخيستو په موخه كارتونه تر لاسه كړي بسنه نه كوي.

په دې پروسه كې د برخې اخيستو له پلوه د ښځو ګډون كه څه هم هڅوونكی دی، خو په ټولنه كې د شته ټولنيزو ستونزو او امنيتي ګواښونو له پلوه ښځې نه شي كولای چې د نارينه وو په څير په ټاكنيزو سياليو كې راڅرګندې شي، او په خپله ګټه كمپاين وكړي. سره له دې چې ټاكنيزې سيالی د چنګاښ له دويمې نيټې را په دېخوا پيل شوي دي خو په ناامنه او په تيره بيا جنوبي سيمو كې تر دې مهاله د ښځينه نوماندانو هيڅ عكسونه نه تر سترګو كېږي.

له دولتي شونيتاوو نه ناوړه ګټه اخيستنه او د نه پلويتوب له اصل نه د چارواكو سرغړونې هغه څه دي چې دكمېسيون د څارنې پر مهال موندنو كې ورته اشاره شوې ده.

## امنيتي وضعيت:

د ولسي جرګې د دويمې دورې په ټاکنو کې ناامني يو تر ټولو ستره ننګونه ګڼل کېږي. د امنيتي چاروا کو په وينا د هيواد په ۱۷ ولايتونو کې امنيتي وضعيت داسې نه دی چې هلته دې په آزاده، عادلانه او شفافه توګه ټاکنې ترسره شي. د هيواد د امنيتي چارواکو په وينا ۱۱۴ ولسواليو کې جدي امنيتي ستونزې شتون لري.[1] سره له دې چې په دې وروستيو کې د دفاع وزارت چارواکو ويلي دي چې د رايې ورکولو ۶۰۰۰زرو مرکزونو امنيت به خوندي کوي، خو لکه څنګه چې ليدل کېږي د ځينو ولايتونو، ولسواليو او کليو لارې له امنيتي پلوه ډېرې خرابې دي او د ناامنيو کچه په ټاکنو کې د خلکو د ګډون کچه راټيټوي. دغه ناامنۍ يو لړ نورې ستونزې هم له ځان سره لري. ناامنۍ ددې لامل کېږي چې کورني او نړيوال څارونکي ونه شي کولای د رايې ورکولو له بهير څخه په لرې پرتو او ناامنو سيمو کې څارنه وکړي. چې دا نيمګړتيا به تقلب ته لا پسې لار هواره کړي. دې ته په کتو د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسيون د خلکو له احتمالي لږ ګډون او د درغليو د کچې د زياتيدو په اړه وار دمخه اندېښنه لري.

دافغانستان د بشري حقونو د خپلواك كمېسيون دموندنو له مخې له بده مرغه د امنيتي ستونزو له امله په ټاکنو کې د خلکو ګډون چې د ولسمشرۍ په ۱۳۸۳ټاکنو او د ۱۳۸۴پارلماني ټاکنو کې ۷۵٪وو، د ولسمشرۍ له پاره په ۱۳۸۸ټاکنو کې تر ۴۵٪پورې راټيټ شوی دی چې په ټاکنو کې د خلکو لږ ګډون ددغو ټاکنو رڼوالی او عادلانه توب له پوښتنې سره مخ کړی.

ناامنۍ د پارلماني ټاکنو د سياليو بهير اغيزمنوي، د ټاکنو په درشل کې ناامنۍ ددې لامل شوي دي، چې په ډېری ولايتونو په ځانګړي توګه په جنوبي ولايتونو کې کانديدان ونه شي کولای په سمه توګه ټاکنيزې سيالۍ ترسره کړي. ناامنۍ ددې لامل شوي ده، چې نوماندان له ښارونو او د ولايتونو له مرکزونو څخه ولسواليو ته سفر، ونه شي کړای. ځکه د لارې په اوږدو کې ماينونو د کېښنودو، د مخالفانو له خوا پر کانديدانو او د ټاکنوپر کارکوونکو باندې وسله وال بريدونه يې ښکاره بېلګې دي. د ټاکنيز سياليو د پيل راهيسي تر اوسه دوه تنه نوماندان په هرات او غزني ولايتونو کې تښتول شوي دي او په خوست ولايت کې يو بل کانديد په جومات کې د يو ماين د چاودنې له امله وژل شوی دی.

## د رايې ورکولو له پاره دکارت ويشلو دمرکزونو کمښت:

يو له هغو ستونزو چې خلك ورسره مخ دي، د رايې ورکولو له پاره دکارت ويشلو د مرکزونو د کمښت خبره ده. لکه څنګه چې دافغانستان د بشري حقونو څارنې ښيي، چې په کابل ولايت کې دري مرکزونه او لس محله د رايې ورکوونکو د نوم ليکنې له پاره پرانيستل شوي، د کابل ښار نفوسو او غوښتونکو ته په کتو ډېر کم دي، کارت غوښتونکي مجبور دي چې تر ساعتونوساعتونو په اوږدو کتارونو کې انتظار وباسي. بايد يادونه وکړو چې دا ستونزه دهيواد په يو شمير نورو ولايتونو لکه هرات، پروان او پکتيا کې هم شته.

دکارت ورکولو په ځينو مرکزونو کې هغه کانديدان چې له ډېر نفوذ نه برخمن دي، پرته له دې چې نوبت ته پام وکړي خپلو پلويانو ته کارتونه اخلي.همدارنګه د نوم ثبتولو په ځينو مرکزونو کې خلك د پوليسو له ناوړه چلند نه هم شکايت لري چې دا ستونزه هم کېدای شي په ټاکنو کې د خلکو د ګډون په کچې اغيزه وکړي او د رايې ورکولو شمير را ټيټ کړي.

د يادولو وړ ده چې د رايې ورکوونکو د نومونو ثبت د روان کال د غبرګولي له ۲۲مې راهيسي پيل شوی دی چې دا نوم ليکنه به د روان کال د زمري د مياشتې تر ۲۱مې روانه وي.

---

[1] د ولسي جرګې له استازو سره د کورنيو چارو د وزارت د سرپرست ښاغلي منير منګل څرګندونې.

## د ښځو ګډون:

په دې پروسه کې د ښځو ګډون په نسبي ډول ښه دی، خو د ښځو نفوسو ته په کتو د قناعت وړ نه دی، ځکه د ۲۳۳۳۷تنو کاندیدانو له ډلې څخه یوازې ۴۰۶تنه ښځې دي. چې د سلنې په حساب (۱۷/۳۷) په سلو کې جوړوي. بله لویه ستونزه د ښځو پر وړاندې د ځاني امنیت په اړه د ډاډ نه درلودل دي. همدارنګه د ښځو بله ستونزه د خپلو کمپاینونو د پرمخ بیولو په لار کې د هغو اقتصادي کمزورتیا ده، سر بیره پر دې په ځینو مواردو کې د کمپاین د پرمخ بیولو په برخه کې نه پوهاوی هم هغه ستونزه ده چې ښځې ورسره مخ دي.

د ښځو د پوهاوي ټیټه کچه، د مناسبو وسیلو کمښت د سیاسي او ټولنیزو فعالیتونو له پاره د ټولنې په منځ کې د ډاډمنې فضا نشتوالی هغه خنډونه دي چې د ښځو د سیاسي ګډون پر وړاندې پرتې دي. دغه ټول لاملونه ددې سبب شوي دي چې ښځې ونه شي کولای په کافي اندازه په ټاکنو او نورو سیاسي برخو کې فعال رول ولوبوي.

په ډیرى ولایتونو کې لکه غزني، میدان وردګ، لوګر، پکتیکا، خوست، پکتیا،زابل، کندهار هلمند، ارزګان، نیمروز، فراه، کنړ او نورستان کې امنیتي ننګونې ددې لامل شوې دي چې ښځې ونه شي کولای د نارینه وو په څیر مخکې لاړې شي. باید یادونه وکړو چې یادوو شویو ستونزو د ښځو رول او ګډون په دې پروسه کې کمرنګه کړی دی.

## له دولتي شونتیاوو نه ناوړه ګټه اخیستنه:

د دولتي چارواکو له خوا له ځانګړو کاندیدانو څخه پلوي او د یو شمیر نوماندانو له خوا د دولتي شونتیاوو څخه ناوړه ګټه اخیستنه یوه بله اندیښنه ده. د اساسي قانون د ۸۳مې مادې د حکم سره سم د ولسي جرګې د غړیو د خدمت دوره د سرطان په لومړۍ نیټه د ټاکنو د نتایجو له اعلان سره پای ته رسیږي او نوې شورا خپل کار پیلوي. دلته ډیری هغه کاندیدان چې ځانونه یې بیا نومولي دي هغه دولتي امکانات یې چې په لاس کې دي په خپلو انتخاباتي سیالیو کې یې کاروي.

د ولسي جرګې ځینې غړي د ځاني اړیکو له لارې چې له لوړ پوړو چارواکو سره یې لري، له دولتي شونیتا نه په خپله ګټه کار اخلي. باید وویل شي چې د ټاکنو د قانون د اوومې مادې له نظره [2] هیڅوک نه شي کولای له دولتي شتمنیو د کاندید په ګټه او یا کاندیدان له هغې نه ګټه پورته کړي.

## له دولتي شونتیاوو نه د ناوړه ګټې اخیستنې یو څو بېلګې:

- میرمن روشنا خالد چې د پروان ولایت د مقام د رسنیو د مسوولې په توګه کار کوي، په عین وخت کې د پروان ولایت څخه د ولسي جرګې له پاره له نوماندانو څخه هم ده. هغې له خپل رسمي موقف نه استعفا نه ده کړې او خپل عکسونه یې د پروان د ولایت په ودانۍ لګولي دي.

- د ولسي جرګې یو کاندید ښاغلی زلمي خان مجددي د ټاکنو د کمېسیون د بهرنیو اړیکو د مسوول له خوا اجازه ورکړل شوه چې د خپلې خوښې سره سم ټول ټاکنيز نښانونه وګوري او د هغو له منځ نه د خپلې خوښې نښان ( چې یو دانه ګل دی او د ټاکنو په تیره دوره کې هم ورته ځانګړی شوی وو) انتخاب کړي. دغه عمل په یو ډول سره له ټاکنو وړاندې د ټاکنو د ولایتي دفتر علاقمندي له نوموړي کاندید سره ښي.همدارنګه د یو شمېر دولتي دفترونو رئیسان، د ملي امنیت د دویم مرستیال په ګډون، دعدلې رئیس، د

---

[2] د دولتي ادارو مسولین او کارکوونکي او ځایې بانفوذه اشخاص نشي کولي په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه د ټاکنو په چاروکې لاسوهنه وکړي. دکاندید یا کاندیدانو په ګټه یا زیان له هر ډول دولتي اسانتیاوو او سرچینو څخه ګټه اخیستل جواز نه لري. ددې قانون حکمونو مطابق له دولتي شتمنۍ او عامه سرچینو او اسانتیاوو څخه برابره ګټه اخیستنه له دې حکم څخه مستثني ده.

ځوانانو مدیر او په بدخشان ولایت کې د امنیه قوماندانی یو شمیر لوړ پوړي افسران په رسمي وخت کې نوموړي کاندید سره دهغه ترټاکنیز ولایتي دفتره جوړه روان وي.

- د پکتیا د ولایت مقام له دولتي امکاناتو نه په ګټې اخیستو دیو ځو تنو کاندیدانو لکه ګل پاچا مجیدي او داوود ځاځي په ګټه کار اخلي. لکه څرنګه چې ځو ورځي وړاندي ګل پاچا مجیدي او داود ځاځي له دولتي امکاناتو نه په ګټې اخیستو خپل کمپاین د پکتیا ولایت دمقام له میلمستون څخه پیل کړ.

## ځلور حقونه او دري اصله:

دافغانستان د بشري حقونو خپلواك کمېسیون د خپلوقانوني صلاحیتونو له مخې، د افرادو له سیاسي حقونو څخه د ۱۳۸۹د ولسي جرګې د ټاکنو په ترڅ کې څارنه کوي. کمېسیون به دخپلو سیمه ییزو او ولایتي دفترونو له لارې د سیاسي حقونو چې عبارت دي د بیان د آزادی حق، په آزاده توګه د سوله ییزې راټولیدنې حق، د ټولنو د جوړولو حق، د ګرځیدو راګرځیدو د آزادی حق او همدارنګه له درې اصلونو چې عبارت دي د نه توپیراصل، د نه ډار اصل، او د نه پلوي توب اصل څخه به څارنه کوي.

د ټاکنو پرمهال امنیتي ننګونې یو له ډیرو جدو ننګونو څخه ګڼل کېږي چې د ځلورو حقونو او دریو اصلونو څخه د سرغړونو په مانا ده. دافغانستان د بشري حقونو د خپلواك کمېسیون څاروونکي څرګندوي چې کاندیدان نه شي کولای دډیرو ولایتونو لکه ارزګان، هلمند، زابل، کندهار، پکتیکا،او د پکتیا، خوست، کنړ، نورستان، لوګر، غزني، میدان وردګ او بغلان په ولسوالیو کې تګ راتګ وکړي. د سوله ییزو ټولنو جوړول هغه حقونه دي چې د امنیت د نشتوالي له امله په یادوو شویو سیمو کې نقض شوي دي. که دا وضعیت همداسي په مخ ولاړ شي خلك به ونه شي کړای د ټاکنو په ورځ د رایو مرکزونو ته لاړ شي او د رایي له حق نه ګټه واخلي. چې دا خبره د عادلانه ټاکنو ترسره کېدل تر پوښتنې لاندې راولي.

په لري پرتو سیمو کې امنیتي ګواښونه یوه جدي موضوع ګڼل کېږي، په لري پرتو سیمو او ولایتونو لکه اروزګان کې کاندیدان د تاکنیزو سیالیو له پاره له سیمه ییزو زور واکانو نه اجازه غواړي. همدارنګه په فاریاب ولایت کې طالبان دوه ګونی سیاست پر مخ وړي، له یوې خوا د ټاکنو د ګډوډولو هڅې کوي له بلې خوا هڅه کوي د ولسي جرګې په ټاکنو کې برخه ولري. د فاریاب ولایت څخه د افغانستان د بشري حقونو دخپلواك کمېسیون د ولایتي دفتر ریپوټونه څرګندوي چې طالبانو د پښتون کوټ ولسوالی د دهن دره په کلي کې خلکو ته ګوت څنډنه کړې چې هیڅوك نه شي کولای د خپلې خوښې کاندید ته رایه ورکړي، تر هغو چې کوم کس طالبانو نه وي په ګوته کړی.

د ولسي جرګې په دې ټاکنو کې د سیمه ییزو زور واکانو له خوا د خپل نفوذ نه کار اخیستل بله هغه ننګونه ده چې د رپوټونو له مخې یو شمیر سیمه ییز زور واکي سر له اوسه د خلکو ته ګواښونه کوي چې ددوی د خوښې وړ کاندید ته رایه ورکړي.

### دافغانستان د بشري حقونو د خپلواك کمېسیون اندیښنې:

1. د ټاکنو د ترسره کېدو پرمهال دافغانستان د بشري حقونو دخپلواك کمېسیون پر وړاندې ناامني تر ټولو ستره اندیښنه بلل کېږي. چې په عادلانه، شفافه او آزاده توګه د ټاکنو پر ترسره کېدو منفي اغیزه کوي. همدارنګه د خلکو د ګډون د کچې د ټیټوالي او د درغلیو د ډیریدو لامل کېږي.
2. دهغو کسانو له خوا رایه ورکول چې په شرایطو برابر نه دي لکه ماشومان.
3. په ځینو ولایتونو کې د ښځو په ځای د نارینه وو له خوا د رایې استعمال.
4. په ځینو ولایتونو کې د دولتي چارواکو له خوا د یو شمیر کاندیدانو پلویتوب او دهغو پوړې دتړلو خلکو د کامیابولو هڅې.
5. دکورنیو او قومي اړیکو پربنسټ اویا هم د پیسوله لارې د ولسوالیو د چارواکو او نورو اړوندو ادارو مداخله.

6. د ښځو له پاره په شخصي کورونو کې د رایه ورکولو د مرکزونو په ځانګړي ډول د رایې محلونو شته والی
7. د رایېه ورکوونکو د نوم لیکني د مرکزونو کمښت او د رایه ورکوونکو د هویت د پیژندني له پاره د کره میکانیزم نه شتون.




دافغانستان د بشري حقونو دخپلواک کمېسیون یوه ډېر لویه اندیښنه د ځینو جنوبي ولایتونو لکه خوست او پکتیا په اړه ده چې کاندیدان په کې یو کارت د ۲۰۰ نه تر ۴۰۰ پاکستانی کلدارو رانیسي او د رایې ورکولو هغه کارتونه چې د پولې په هغه غاړې د(د پاکستان د تیرا) په سیمه کې چاپ شوي دي د پولې دې غاړې ته راوړل شوي دي. چې د رایي ورکولو په ورځ به ورنه په احتمالي توګه ډیره ګټه پورته شي. ښځو پوري اړونده بې انځوره کارتونه په پراخه پیمانه سکن او بیا پوښ ورکول شوی دی چې په ټاکنو کې ورنه ګټه پورته کړي.

## وړاندیزونه:

- دافغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون له دولت او په افغانستان کې له میشتو نړیوالو ځواکونو غواړي چې د هیوادوالو امنیت دې په ځانګړي ډول د ټاکنو پر مهال ټینګ کړي او خلکو ته دې د عادلانه، رڼو او آزادو ټاکنو د ترسره کېدو ډاډ ورکړي.
- دافغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون د ټاکنو له خپلواک کمېسیون نه غواړي چې د ټاکنو په پروسه کې دې د لازم دقت نه کار واخلي او هغه کسانو ( له ۱۸کلنو کم ماشومان) ته یا هغو نارینه وو ته چې د ښځو کارتونه کاروي د رایي اچوني اجازه ورنه کړي.
- د ټاکنیزو شکایتونو د اوریدو کمېسیون دي په لا روڼوالي سره د هغو وار دمخه ټاکل شویو اصولو له مخي د هغو کسانو د ټاکنیزو شکایتونو، نیوکو او اندیښنو ته په خپل وخت ځواب ووایي چې نومونه یې له وروستي لیست نه لرې شوي دي.
- په هغو صورت کې چې د دولتي کارکوونکو له خوا د دولتي امکاناتو نه په ټاکنیزو سیالیو کې د ناوړه ګټې اخیستني رپوټونو رښتیاوالی څرګندیږي دافغانستان دولت دي د سرغړونکو سره دهغو د سرغړونو سره مناسب قانوني چلند وکړي. له سرغړونکو سره دغه ډول چلند به د عدالت له ټینګښت سربیره د ټاکنو پر پروسې یوه سمبولیکه اغیزه هم ولري.

- دولتي ټوليزې رسنۍ بايد د ښځو له پاره د ټاکنيزو تبليغاتو په برخه کې ځانګړي اسانتياوې رامنځ ته کړي، تر څو هغو وکولای شي په ټاکنيزو سياليو کې د خپلو سيالو کانديدانو پر وړاندې برابري ولري.
- دافغانستان د ټاکنو خپلواک کمېسيون بايد دهيواد نفوسو ته په کتو د رايې ورکوونکو له پاره د نوم ليکنې مرکزونه زيات کړي او يا دې د هغې موده اوږده کړي. چې دا پروسه چټکه او خلک نور تر ورځو ورځو په اوږدو کتارونو کې له دريدو خلاص شي.
- د تيرو ټاکنو د تجربو نه دې په زده کړې سره د درغليو د مخنيوي په موخه د ښځو د رايه ورکولو په مرکزونو کې د ښځينه کارکوونکو شمېر زيات شي، تر څو د نارينه وو له خوا د ښځو دکارتونو نه د ګتې اخيستو مخه ونيول شي